ورځپاڼه
شریعت
SHARIAT DAILY
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

شپږم کال ٤٥مه ګڼه پرله پسې (٤٢٥) چارشنبه د١٤٢٢ هـ ق کال دربیع الثاني (٦)
د ١٣٨٠ هـ ش کال دسرطان دمياشتې (٧) د٢٠٠١ میلادي کال دجون (٢٧)

د مخدراتو پرخلاف دنړیوالې ورځې په مناسبت مهمه غونډه جوړه شوه

کابل :
د جون دمیاشتې د ٢٦ نیټې د مخدره موادو پرخلاف د مبارزې دنړیوالې ورځې له امله پرون په انټرکانټیننټال هوټل کې یوه غونډه جوړه شوه .
د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ په دې غونډه کې لومړی د ریاست الوزرا ، اقتصادي مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر د وینا په ترڅ کې د مخدره موادو پرخلاف د مبارزې او په هیوادکې د کوکنارو د کرکیلې د بیخي بندولو په لاره کې دافغانستان د اسلامي امارت کړه وړه او اقدامات بیان کړل . او ویې ویل د افغانستان له اسلامي امارت سره له زیاتې مودې را پدیخوا دغه مفکوره موجوده وه چې له مخدره موادو سره مبارزه بوازې په خبرو او د ښاوو کې منحصره نده بلکې په دې اړوند باید په عملي توګه په کار لاس پورې کړو چې له نیکه مرغه اسلامي امارت دغه لوړ هدف ته د رسیدو په لاره کې او چټ ګامونه اخیستي دي او ګټوري نتیجې هم ترلاسه شویدي . وروسته د مخدره موادو پرخلاف د مبارزې د امارتي عالي کمیسیون د څېړونو رئیس محترم شاه محمود منګل یو مفصل رپوټ چې د دغه پر بنسټ د دغه کمیسیون فعالیتونه منعکس شوي ؤ وړاندې کړ . وروسته د مخدره موادو په چارو کې د ملګرو
٤مخ

الهی فرمان
بې شکه الله تاسې ته امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او کله چې د خلکو ترمنځ فیصله کوئ نو په عدل یې کوئ ، الله خو تاسې ته ډېر خبرو نصیحت کوي بې شکه الله اوریدونکی او لیدونکی دی .
- (٥٨- النساء)

در ولایت تخار : چندین عراده تانک جدید روسی به غنیمت گرفته شد

روسیه ، ایران و هند کمک های نظامی خود را با مخالفین افزایش داده است

روسیه سلاح ومهمات جدید رابه مسعود تسلیم نموده است .
این مطلب را محترم ملاعبدالحی مطمئن سخنگوی مقام امارت اسلامی افغانستان باخبر نگار رادیو صدای امریکا گفته افزودند : روسیه دراین اواخر سلاح های جدیدی را به مسعود تسلیم نموده که از آن در حمله ناکام بر ولسوالی خواجه غار استفاده نموده بود که در اثر رشادت مجاهدین چندین چین
ص ٤

پــه تورخم کې دي:
له افغانانو دې رشوت اخیستلو مخه ونیول شي

د مهاجرو بندیانو په دوسیو دې غور وشي

کابل-شریعت :
لکه څرنګه چې پدې ورستیو وختونوکې افغاني مهاجرینې د پاکستان پولیسو لخوا دغوی څورونه او له پاکستان نه دغوی راشړل یوه دوام ورخبره ده زموږ خبریال پدې اړه د شهیدانو او مهاجرینو وزارت له معین الحاج ملا رحمت الله « واحد یار » سره خبرې کړې چې له نامو سره یې پرځای لولو . لومړی سرکې واحدیار صاحب
٤مخ

پـه سپین بولدک کي :
دیو جامع جوماټ بنسټ کیښودل شو

کندهار :
د کندهار ولایت د سپین بولدک ولسوالي په بازار کې پرون د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د یوه جامع جوماټ د بنسټ ډبره کیښودل شوه .
٤ مخ

په نورستان کې دباغیانومرکزله منځه یوړل شو

نورستان :
دنورستان دوامه ولسوالي په غرنیو سیمو کې دحاجي قدیر تدارکاتي او پوځي مرکز دري وري شو دباختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ دنورستان دوامه ولسوالي په غرنیو سیمو کې داسلامي اردو مجاهدینو دغو عملیاتو په نتیجه کې چې د سیمې د خلکو په مستقیمې همکارۍ سره ترسره شول دحاجي قدیرتدارکاتي او پوځي
٤ مخ

په لوګر کې (٣٨٠) کورنۍ له صحي اوبو برخمنې شوې

لوګر:
دلوګر ولایت دمحمد آغې ولسوالي په مربوطاتوکې دشپږو پخوینډونو په جوړولو او دديارلسو کاریزونو په پاکولو سره
٤مخ

مقرره، شورای عالی اسلامی کار طرح ریاست عمومی کار وامور اجتماعی

از جانب عالیقدر امیر المؤ منین توشیح گردید

بخاطر خود کفایی نو جوانان ، ده پروژه آموزشی حرفوی ایجاد و دوصد تن در آن مصروف آموزش اند

کابل شریعت :
ریاست عمومی کار و امور اجتماعی بخاطر خود کفایی نو جوانانی که از پروسه تعلیم بازمانده پروژه های آموزشی حرفوی را در
ص٤



فواره آب چهار راهی پشتونستان که اخیراً توسط پرسونل فنی شاروالی کابل ترمیم و دوباره فعال گردیده زینت بیشتر برشهر کابل افزوده است عکاسی یوسف

درولایت سرپل سارقین دستگیر گردید

فاریاب :
چهارتن به اتهام سرقت اخیراً درمربوطات ولایت فاریاب دستگیروبه پنجه قانون سپرده شد . آژانس اطلاعاتی باختر خبر میدهد موظفین بیدار امنیتی ولایت
ص٤

درشفاخانه پلخمری یک کمپ کولرا افتتاح شد

پلخمری :
بمنظور تداوي ومعالجه مریضان مصاب به کولرا یک کمپ معالجوی اخیراً درشفاخانه ملکی شهر پلخمری فعال گردید، کمپ معالجوی که از طرف ریاست صحت عامه ولایت بغلان وبه همکاری
ص٤

در یک دیپوی بزرگ مسعود انفجار رخ داد

در این دیپو سلاح های جدیدی بود که روسیه به مسعود تسلیم نموده بود

در اثر انفجار،مرمی ها به منازل اطراف آن اصابت نموده و تعداد زیادی زخمی گردیدند

منابع خبری بین المللی:
ده تن از افراد ملکی زمانی شدیداً زخمی گردید که یك دیپوی سلاح و مهمات مسعود که تازه از جانب روسیه بدست آورده بود انفجار نموده و مرمی های آن محلات مسکونی اطراف را شدیداً خساره مند گردانید این دیپو که در منطقه وسمی ولسوالی فرخار در بین منازل مسکونی ایجاد شده بود دهلراز سلاح ومهماتی بود که از طرف روسیه به مسعود تسلیم داده شده بود .

مسابقه فتبال اتحاد و میوند مساویانه پایان یافت

کابل - شریعت :
به سلسله تدویر مسابقات تورنمنت بهاری فتبال که از دیری بدینسو در ستدیوم ورزشی کابل براه افتیده است عصر دیروز مسابقه جالبی بین تیم های فتبال اتحاد و میوند صورت پذیرفت که نتیجه آن
ص٤

ایران برای مهاجرین افغان اسناد اقامه مؤقت توزیع نمود

کابل - شریعت :
از جانب اداره مهاجرین (بخش اتباع خارجی) کشور ایران برای افغانان مهاجر مقیم آنکشور اسناد اقامه موقت توزیع گردید .
محترم قاری عبدالمجید « عمری » رئیس امور مهاجرین وزارت شهدا ومهاجرین امارت اسلامی ضمن تایید این مطلب به خبرنگار ماچنین اضافه داشت : از آغاز سال ١٣٨٠ هـ ش اداره مهاجرین بخش اتباع خارجی کشور ایران در سراسر آنکشور یك سروی عمومی را درقبال ثبت و راجستر افغانان براه انداخته بود که
ص٤

گلدان ها وجزایر وسط جاده های شهر اعمار میگردد

کابل شریعت :
گلدان های زینتی وجزایر ترافیکی از طرف ریاست تعمیر ساختمانی شاروالی کابل در وسط جاده های شهر اعمار میگردد .
ص٤

عکس : نمایی از جریان کاراعمارگلدان ها عکاسی یوسف

درکابل نرخ غله کاهش قابل ملاحظه یافته است

کابل- شریعت :
باوجود قحطی وخشکسالی درکشور مندوی غله درشهر کابل مملواز آرد وگندم بوده و نرخ غله در مقایسه با یکسال قبل ٤٠ - ٦٠ فیصد کاهش یافته است .
محترم انجنیر محمد شفیع وکیل مندوی باغ قاضی شهرکابل
ص٤

د آذربایجان مشر ارمنستان ته د جګړې ګواښ وکړ

باکو:
د آذربایجان جمهور رئیس حیدر علي یوف ارمنستان ته دجګړې ګواښ وکړ .
د را رسیدلو خبرونو له مخې حیدر علي یوف ویلي دي په هغه صورت کې چې د نګورنو قره باغ په باب د وار هیوادونو ترمنځ خبرې نتیجې ته ونه رسیږي د آذربایجان
٤مخ

د یهودي غاصب رژیم لـه خـوا الخلیل ښار ګوټې کلابند شو

بیروت :
د اسرائیلو د برغلګر رژیم د الخلیل په ښار باندي له ډزو وروسته دغه ښار په بشپړه توګه کلابند کړ .
د فلسطین له نیول شویو سیمو څخه د وروستیو را رسیدلو خبرونو له مخې د اسرائیلو پوځیانو د الخلیل ښار ته د غږیدلو لارو په ترلو سره دغه ښارته د فلسطینیانو د تګ راتګ مخه نیسي .
صهیونیستي برغلګرو ځواکونو
٤مخ

سرمقاله
دلوي او بښونکي خدای (ج) په نامه

اسامه او د تبلیغاتي وسایلو ناروا هڅې

په دې وروستیو کې د « M.B.C » تلویزیون له خوا د اسامه بن لادن یوه مرکه خپره شوې چې پکې امریکایي او یهودي مراکزو ته ګواښونه شوي او زیاته شوې چې راتلونکې اونۍ به په دې اړه د پراخو بریدونو شاهده وي . داچې امریکایانو له دې نه لږ مخکې په عربي سمندر کې خپلو بېړیو او ټولو نظامي هدو ته د څه احتمالي ګواښونو له امله د
٢ مخ

مخدرات زموږ دین ، عقل اوبدن له منځه وړي نوراځئ له دغسې دښمن سره په ټل مبارزه کوو

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج ملا اسدالله «حنیفی»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات :۶۲۸۵۹
پست بکس : (٤٧١) کابل افغانستان
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

دسرمقالی پاتی برخه

بیداری امر کړی ؤ او بیا سمدلاسه M.B.C په دی اړه د اسامه مرکه نشر کړه ، په خپله څرګندوی چې نړیوالې تبلیغاتی منابع د سترو ځواکونو په مزاج ډیرې ښې پوهیږی او کولای شی د دغسی خبرونو په نشرولو نړیوال شهرت ترلاسه کړی ۔ او ښایی په دې هکله څه نور غرضی لاسونه لکه یهود او ځینی نور متعصب لوری هم چې د افغانستان اسلامی امارت سره ډیر حسد او کینه لری ، په لمسونو او پارونو لګیاوی ۔ په هر صورت حقیقت دادی چې اسامه بن لادن د افغانانو د جهاد میلمه او د ده مسأله اوس یوه لویه ملی قضیه جوړه شوی چې هیڅکله هم په یو نظام او کوم خاص تنظیم او دلی پورې اړه نه لری ، تر دې چې اسلامی امارت هم یوازی او یوازی د خپلو مجاهدو خلکو د دریځ او هیلو ترجمانی کوی ۔ دا چې اسلامی امارت له نړیوالو سره د ښه ژوند او ګوزران کولو مکلفیت لری او نه غواړی د افغانانو خاوره نورو ته په جنجال او خطر جوړولو کې استعمال شی نو ځکه یی لا د پخوا نه اسامه بن لادن تر کلکی څارنی لاندی نیولی ، له هغه یی ټول مخابراتی وسایل اخیستی او هیڅکله د یو داسې کار اجازه نه ورکوی چې د نړیوالو دځوریدا باعث وګرځی ۔ نو په داسی حال کې چې د اسامه بن لادن یو نږدی ملګری «ابو حفص» په خپله د نوموړی مرکې تردید کړی ، هغه یی دروغ بللی او د کوټلی ثبوت وړاندې کولو غوښتنه یې کړې ۔ د افغانستان اسلامی امارت یوځل بیا د اسامه په هکله خپاره شوی خبرونه دروغ او یو غرضی پاروونکی عمل بولی او نړیوالو ته په دی هکله بشپړ ډاډ او په ټولو اختلافی مسألو کې تفاهم او خبرو اترو ته خپل چمتو والی اعلانوی ۔

داسلامی نړی طبابت ته لنډه کتنه ۷

پوهاند عبدالحی مؤمنی

دغزنو یانو په دوره کی :

دغزنویانو په دوره کی علومو انکشاف ونکړ مګر په مدرسو کی دحساب ، نجوم او طب تدریس دوام درلود ۔

دلومړی ځل لپاره په نظامی ډګرکی دسطان محمود غزنوی له خوا ګرځنده (سیار) روغتون منځ ته راغی او په لښکو کښیو کی ځنی استفاده کیده دګرځنده روغتون دجوړیدو مسوولیت دمستوفی عزیزالدین په غاړه اینبودل شوی ؤ. هغه دروغتون ټول تجهیزات ،خیمی ، دوا او لازم طبیبان ئی تنظیم کړل ۔ هغه دروغتون لپاره مقرارات جوړ کړل او د تطبیق ورئی وګرځول ، پدی روغتون کی اسیران او د دښمن ټپیان په مساویانه توګه تداوی کیدل ۔

دسلجوقیانو په دولت کی هم لکه دغزنویانو په څیر طبابت انکشاف ونکړ مګر تجارت پرمخ ولاړ چی د درملو تجارت او تبادلی څه ناڅه رونق موندلی ؤ ۔

همدی ډول غوریانو هم دغزنیانو مشهود غوره کړی او ددی دوری دصنعت او معماری نښی همدغه دهرات جامع جومات او دجام منارده ۔

دخوارزم شاهی په دولت کی چی ابوالحسن مامون یو علم پرور او دنامتو پوهانو له جملې ؤ ابن سینا ، ابوریحان ، ابوالحسن سهیلی او ابوالخیر خمار دهغه په دربارکی ژوند کاوه او علمی کتابونه ئی دهغه په نامه ولیکل په همدی ډول که دخپل وطن تاریخ ته مراجعه وکړو ګورو چی ددی خاوری په هرګوټ کی لوی تمدنونه تیرشو بدی چی دهغویه ځنګ کی طبابت هم خپل نقش درلود ۔

والی چی د زرنج په ښار کی مختلفو علومو انکشاف کړی و چی طبابت هم دلومړی ضروریاتو په جمله کی شامل ؤ او دښار عایداتو نیمائی برخه دخط الصحی په برخه کی مصرفیده «عمرولیث یو بازار جوړ کړی ؤ چی دهغه په نوم ئی شهرت درلود او ددی بازار عایدات یی مسجد او روغتون ته وقفه کړی ؤ «(پنجاه مقاله ص -٦٧ - پوهاند عبدالحی حبیبی) که داسلامی نړی دعلومو پرمختګ ته نظر واچوو ګورو چی ددولسمی پیړی په پای کی بلخ ، مرو ، نیشاپور ، هرات ،بامیان ، زرنج او غزنین دهغی زمانی دلویو ښارونو په جمله کی حسابیدل ، په بازارونوکی حماموته موجود ؤ حالانکه په منځنیو پیړیوکی اروپائیانو حمام نه پیژندلو ۔

تجاران ، طبیبان ، ملایان ، شاعران پدی زمانه کی داحترام وړ ؤ ۔ درباره ډیر مجلل او پرمصرف ؤ طبیبان ، شاعران ، منجمین او داسی نور په دربارکی موجود ؤ ځکه په هغه وخت کی اسلامی شاهانو خپل عظمت دعلما او پوهانو موجودیت په دربارکی ګڼل او داکار دعلومو او فرهنګ دپرمختګ عامل ګڼل کیده (افغانستان درمسیرتاریخ ص ١٥٢ میرغلام محمد غبار) کله چی مسیحی علماو دایتالیا په جنوب کی او هسپانیه کی داسلامی تمدن او فرهنګ سره مخامخ شول هک پک پاتی شول او دکتابونو په ترجمه ئی شروع وکړه چی ریاضی ، ستوری پیژندنه ، طب ، طبیعی فلسفه ، علم النفس ، منطق ، دارسطو دتألیفاتو سره ترجمه کړل او الکندی ، فارابی ،ابن سینا ، ابن باجه او ابن الرشد ئی وپیژندل او دابن سینا قانون هلته ښکاره شو ۔

پدی ډول دینځو پیړیو په درشل کی ډیر پوهان او استعداونه منځ ته راغلل حالانکه دمنځنیو پیړیو اروپائیانو کی سواد یوازی کلیسا پوری تړلی ؤ او اکثره شاهانو او تجبار سواد نه درلود غربی اسلاویان په نهمه پیړی کی او روسیه په لسمه پیړی کی مسیحیان شول او دالفبا ، سواد او لوستلو څښتنان شول ۔

دشرق او غرب ترمینځه همدغه لوی تفاوت ؤ چی دهغی ورځی اروپائی لوټ مارانو حرص شرقی تجمل ته واړول شو چی په نتیجه کی ئی صلیبی جنګونه منځ ته راوړل او دوه سوه کاله ئی دوام وموند ۔

اندونیزیا دعیسائیت په بحرانو کی ۱

محمد الله «نورستانی»

لوی اسلامی هیواد اندونیزیا یوځل بیا په بحران کی لویدلی . له جنرال سوهارتو نه وروسته برهان الدین یوسف حبیبی ولس مشروټاکل شو لیکن له اسلام پالو سره دهغه رویی او دالوتکو په جوړولوکی دنوموړی خودکفالت دهغه دتوراوالزام سبب وګرځیدل ، ١٦ میاشتی ترمخه د«نهضة العلماء» عبدالرحمن وحید قدرت ترلاسه کړ ګولوکار ، جمهوری او متحده ترقیاتی (P.P.P) ګوند ونو نوموړی هیواد ژغورونکی وباله . لیکن اوس چی (دنړیوالو استعمارچیانو په نغوته) فساد اوج ته رسیدلی نو له ولس مشرنه داستعفا ورکولو غوښتنی کیږی پدی صورت کی دجمهوری ګوند مشر دولس مشر مرستیال میګاواتی (دسوکارنو لور) ولس مشره جوړیدو ته لاره اواریږی ، دمیګاواتی دآزاد خیالی (سربیره پردی چی د ښځی سربراه جوړیدل پخپل ذات کی یو عذاب الیم دی) ترټولو لوی دلیل دادی چی د نوموړی دګوند (A.P.D.P) او یا فیصده غیری چینی نژاد او یاعیسویان دی ، دمیګاواتی کلساو ګرجوته تلل او هلته دګلانو شیندل په نړیوالو خبرونو کی شایعه شوی . له وسائلو مالاما له اندونیزیا نه دختیځ تیمور په جلاکولو کی داستعماری قوتونو کامیابی دغه ویرجن حقیقت واضحه کړی چی دغه د ٩٠ فیصد مسلمان اکثریت هیواد ٩،١٠ فیصده مسیحی اقلیت ترخپلی اغیزی لاندی راوستلای شی ٥ فیصده چینایی النسل ابادی دهیواد په ټولو اقتصادی ذریعو خپله ولکه ټینګه کړی . اکبر تاجنګ میګاواتی ، امین رئیس او جنرال اندرپارتو ستارتو په یواځی سر هیواد له اقتصادی بحران دختمولو او دهیواد دمتحدکولو صلاحیت نلری عبدالرحمن وحید که معزول یا مستعفی شی نو کوم کس چی بیا په اقتدار راځی هغه به یاد «عیسویت منابرو ګوندونو» استازی وی او یا خپوبه هم دهغوی درحم اوکرم په برکت راځی د نورو اسلامی هیواد و پرخلاف (چی هلته غیرمسلم ، ولس مشر صدراعظم ستاتورانو مشر ، دفاع وزیر او مشردرستیز تشی جوړیدای)په اندونیزیا کی داسی په اساسی قانون کی کومه دفعه یاماده نشته چی له مخی یی هلته غیرمسلم ولس مشر جوړنشی ۔

په آچی ایریان جایا ، ریاو او دمدوراپه ایالتونوکی دجلایی غوښتنی خوځښتونه مخ په پرمختګ دی ولی چی دعیسایی توب په وجه دملګرو ملتونو «داله کاری به ګډون «دنړیوالو کفار وملاتړورته حاصل دی ، د«ملو کاپه جزیرو «کی مسلمانانو او عیسائیانو دیویل خلاف و سله وال او په موضوع کی ناست دی ، دسوهارتو اوله هغه وروسته حکومتی دوروکی په ٣ کالو کی ١٠ فیصده مسیحی اقلیت دحکومت په مهمو پوستونو باندی خپل ګرفت منسوبط کړی ٤ ١هـ ستراتیژیکی وزارتونه له دوی سره دی دصناعت او تجارت وزارت لوهوت پنسارینجا یتن سره دی کوم چی مذهباً پروتستنټ (عیسوی) او په سینګاپورکی داندونیزیا سفیر پاتی شوی ، لوهوت وعده کړی وه چی ٨٠ اربه امریکایی ډالره سرمایه چی له اندونیزیا بهر ویستل شوی هغه به واپس راوړی لیکن پدی کی څه پرمختګ ونشو بلکې د دیپسوقیمت لانورهم راټیټ شولو هوت له پخوانی حاکمی کورنی او داقتصادی اهمیت لرونکی چینی آبادی له مؤثروکسانو سره هم ډیری ژوری او ښی اړیکی لری . ښکارسراګی دکرنی وزیر او مذهباً پرتسټ عیسایی دی نوموړی دتیوګورا «په انسټیټوټ کی دکرنیزو اقتصادیاتو پروفیسردی داندونیزیا د ١٢ کروړو مسلمانانو په بدحالی کی چاهم ښه والی رانه وست البته دکرنی په وزارت کی په مهمو پوستونو کی ډیر تعلیم یافته عیسویان مقررکړی شول سربیره پردی دصعادنو او دتوانایی وزیر پرنو مویس ګینانتر وهم کاتولیک عیسایی دی دنوموړی تعلق له «جاوا» سره دی کوم چی د«جاوا» او سیدونکی په مجموعی توګه دهیواد په سیاست کی ډیر اغیزمن وی نوموړی د«جکارتا» د«اتماجایا» کاتولیک پوهنتون سره مربوط پاتی شوی چی وروسته بیا دنړیوال بانک سلاکار هم پاتی شوی ، دی دتیلو دپلیتی کمیټیو مشر هم پاتی شوی کوم چی سر مایه یی له ملیاردو ډالرو هم زیاته ده دنوموړی له امریکایی سفیر ایس ګلیارډ سره ډیری نږدی اړیکی دی ولی چی مذهباً هم سره یو او دنړی دامنیت دتامینولو طریقه یی هم سره یو ده !!

دارنګه داندونیزیا بانک دتعمیراتو دټولنی (B.R.A) مشرایدون ګروګان هم عیسایی دی ۔

دلته د «تهیو» یادونه هم ضروری ده متقاعد تورن جنرال تهیو سیانی مسګاپوپرو تیسمټ دی نوموړی د«مکاسار» اوسیدونکی دی دمسلم مسحی فساداتو اورته په لمن وهلو کی ده لوی لاس پاتی شوی او دنوموړی دغه جمله مشهوره ده : «ماته په اندونیزیا کی دمسلمان دحکومت پرځای د اندونیزیا تقسیمول غوره دی» ۔

٤ ځی لری

په اسلام کی داستخباراتو ارزښت ۲

داستخباراتو دلوی ریاست له خوا

د دین خدمت او د دین او هیواد ساتنه په هر مسلمان باندی فرض ده ، هر مسلمان او په ځانګړی ډول ولسواکان دنده او مکلفیت لری چی په ټولو تر واک لاندی وسایلو باندی د دین او هیواد خدمت او ساتنه وکړی او ټولی هغه لاری چاری په کار واچوی چی په دی اړه اغیزمنی واقع کیږی . اسلام امن او امان (امنیت) ته ډیره پاملرنه کړیده ، آرام او ډاډمن ژوند ته ډیر ارزښت ورکوی .

د امنیت د ښه ټینګښت لپاره یی احوال او ښستونه اینبی دی . رسول اکرم «ص» استخبارات او استخباراتی کار ته ډیره توجه درلوده . په دی اړه ډیر پرمخ تللی دی ، ډیر اعتمادی او د ډاډ وړ استخبارات یی درلودل او د تاریخ پوهانو په اند په ډیرو غزاګانو او جنګونو کی (د بشری وسایلو تر بریده) د رسول الله «ص» د بری لامل دهغه پخه او ځواکمنه استخباراتی دستګاه وه رسول الله «ص» به ډیر وخت د خپلو استخباراتیانو په واسطه د دښمن له پلانونو څخه خبر شو او تر څو به چی دښمن ځان چمتو کاوه نو رسول الله «ص» به یی د مقابلی لپاره پوره چمتووالی نیولی او دهغی ټولی دسیسی به یی تروخت دمخه ورشنډی کړی .

ډیر ځله داسی شویده چی رسول الله «ص» به د خپلو اطلاعاتو له مخی په دښمن ناڅاپی برید وکړ او ستره بریا به یی ترلاسه کړه خو د ده «ص» استخباراتی چینل دومره ځواکمن ؤ چی تر پایه پوری کفار په دی ونشو توانیدای چی دی «ص» ناڅاپه ګیر کړی ، او یا ده ته زیان ورورسوی . رسول الله «ص» دې دستګاه ته دومره ارزښت ورکاوه چې د استخباراتی مشر عبدالله ابن جحش «رض» ته یې د امیر المؤمنین خطاب کړیدی چی له ده وړاندی هیڅوک هم په دی لقب ویاړمن شوی نه دی چی دا پخپله ددی مقام او رتبی څرګندوی دی .

الله «ج» مسلمانانو ته امر کوی چې د کفارو د مقابلی لپاره هر اړخیز چمتووالی ولری «واعدو ...» ترجمه «دهغوی د مقابلی لپاره چې هر څومره مو وس وی ځواک برابر کړی» ښه او هر اړخیز چمتووالی هغه وخت شونی دی چی مسلمانان د دښمن په اړه هر اړخیز معلومات ولری ، دهغوی له ګرنیز ځواک ، پوځی وسایلو ، نظامی او لوژستیکی امکاناتو څخه او د پوځیانو له مورال څخه یی ښه خبر وی . دا هم د دښمن د مقابلی لپاره یو ډول تیاری او چمتووالی دی چی اسلامی اردو او سرلښکر خپل اسرار او رازونه پټ وساتی ، خپل امکانات ، وسایل ، پرسنیز د دښمن له ستر ګو پټ وساتی د هغوی د استخباراتی فعالیتونو مخه ونیسی او هڅی یی شنډی کړی . چې دې ته وقایوی استخبارات یا ضد استخباراتی فعالیت وایی .

په نظامی برخه کی استخبارات ډیر مهم رول لری او لکه چی پورته مو هم وویل ډیر ځله لیدل شویدی چې د هرچا استخباراتی چینل ځواکمن وی او د دښمن په اړه ډیر معلومات ولری نو د دښمن د توان په پرتله یی ډیر پیاوړی ، مناسب تدابیر نیولی دی او په پای کی یی بری هم په برخه شوی دی . د سیرت او د رسول الله «ص» د غزواتو د تاریخ په لوستلو سره پوهیږو چې رسول الله «ص» به چې هر کله د کومی جګړی تابیا نیوله نو مخکی تر مخکی به یی دخپلی مخفی مقر زی (پټ ټولی) په واسطه معلومات ترلاسه کړل او د دښمن د ارادی ، مورال ، شمیر ، امکاناتو او وسایلو په نظر کی نیولو سره به یی خپل چمتووالی هم ونیوه او د تاریخ په پاڼو کی به داسی غزا ثبت نه وی چی رسول الله «ص» دې د استخباراتی معلوماتو له ترلاسه کولو پرته اقدام کړی وی .

رسول الله «ص» به له غزواتو دمخه یو ټولی خلک یا په هغه اندازه چی رسول الله «ص» به مناسب ولیدل د دښمن د لښکر مخی یا د دښمن ساحی ته ولیږل چی معلومات راټول کړی ، د احادیثو کتابونو او د سیرت پاڼو داسی ډیری ټولنی رانقل کړی دی چی دټولی په توګه به یی څو بیلګی دلته هم را یاد کړو :

د هجرت په دوهم کال د رجب المرجب په میاشت کی رسول الله «ص» د عبدالله ابن جحش اسدی «رض» په مشری یو اته کسیز ټولګی وټاکه او یو لیک یی ورته ورکړ عبدالله ته یی وویل چی له دوو ورځی سفر څخه وروسته به دا لیک ولولی او ددی لیک په متن کی عمل وکړه ، له خپلو ملګرو څخه یو تن هم له ځانه سره تلو ته تیاریاسی عبدالله د رسول الله «ص» د امر سره سم له دوو ورځی سفر وروسته لیک پرانست په لیک کی لیکل شوی ؤ ، کله دې چی لیک پرانست نو مخ په وړاندی څه تر څو چی نخله ته ورسیږی (نخله مکې او تائف ترمنځ پرته ځای نوم دی) نو قریش تر ستر ګو لاندی لره او دهغوی له وضعیت او حال احوال څخه مو خبر کړه ، کله چی عبدالله د لیک له لوستلو څخه فارغ شو نو وی ویل : «هو بی اوږه او هم ستا اطاعت کوم» بیا یی خپلو ملګرو ته وویل چی (امانه رسول الله «ص» لارښوونه کړیده چی نخلې ته لاړ شم او د قریشو د وضعیت او حال احوال په اړه را ته پوره ترتیب ګرم او زه په زور ستاسو له ډیرو څخه رسول الله «ص» منع کړی یم هر څوک چی شهادت غواړی او پخپله مینه څی نو را دی شی که نه نو بیرته تللی شی خو زه به د رسول الله «ص» له وینا سره سم خپل سفر ته دوام ورکړم) هغه روان شو او ملګرو یی هم یوازی پری نښود او ټول ورسره ملګری شول .

- نوربیا -

دساینس نړۍ

نظر دانشمندان درمورد موهای گوش

یك دانشمند دنمارکي در کتاب جـدید خـویش در مـورد قـوه شنوایي نوشته است .

کساني که در حالت دلتنگي و افـسرده حـالي زنده گي مـیکنند نسبت به دیگران ماده قـهوه یي رنگي که در گـوش تـوسط حجرات وغـده هـاي داخلي گوش تولید میشود مجراي شنوایي را بند میکند .

در گـوش انـسـان هـا دو نوع غـده از هـم ترشـحـات مـتـفـاوت دارد که وظیـفـه یکي آن تولیـد روغن و غده دوم یك مـواد مـوم مـانند تولیـد مـیکند ، زمـانیکه حالت ناراحتي وافـسرده گي براي انـسـان پیش آید فـعالیت این دوغـده بیـشـتـر میگردد همچنان کساني که دستانشان درحالت عادي عرق مـیکند غـدوات ممتاز گوش هاي داخلي آنهـا بیـشـتـر از حـد نورمال فعالیت میکند .

دانشـمندان مـیگویند آن عده از جوانان و اشخاص مسني که در داخل گوش شان موها سرزده و مواد مومي که در داخل گوشهاي شان تولید مـیشود با سلول هاي مرده پوست داخل گوشها یکجا شده و مجراي شنوایي آنها را بند میکند .

داکتران میگویند که طریقه پاك کاري کانال گوش ها ساده است اول اینکه مـواد مـومي کـه در داخل گوش جمع میشود آنرا پاك کـاري کـرد ، دوم اینکه در اثناي خـواب مـیـتـوان از روغن زیتـون اسـتـفـاده نمود ویك قطره روغـن زیتــــــون داخل گوش چکانده تا مـواد مومي نرم گـردد و آهـسـتـه آهـسـتـه از گوش خارج گردند .

د بیالوژیکي تنوع کنوانسیون

په دې برسـتـیـو کـې د کـېـنـیـا په پلازمینه نایروبي کې د بیـالوژیکي تنوع په هکله یو کنوانسیون جوړ شوی ؤ .

په دې کنوانسیون کې د هغو ځاروېو په هکله چې په چټکۍ له منځه تللي خـبـري شـوي چې وضع ولي لا پسـي وېـجـاړېږي ، د دې تـرڅنګـه د نړۍ دځنګلونو له نـیـمـایي نه زیاته برخـه له منځه تللې چې په دې ځنګلونو کـې د ډول ډول زړي او ځاروي ژوند کوي که چېرې د ځنګلونو د منځه وړلو مخه ونه نیول شي د ځاروېو او نورو ژیو له منځه وړل هم ګړندي کیږي .

په کنوانســیـون کې د غړو هـیوادونو برخـه اخـیـسـتـونکي استازي له دې ستـونزې سـره مـخـامـخ ؤ چې څه ډول تدبیرونه ونیول شي چې د ځنګلونو د له منځه وړلو مخه ونیـسي . مهمه خبره داده چې خلـک د پوهول شي د ځنګلونو ساتل په مختلفو طریقو ښه کار دي او ګټه یې لا زیاته ده ، نو فیصله وشوه چې په دې اړه کـار کـول دوام پـیـدا کـړي .

بیست وشش سال بیهوشي

یـک زن چهل و دوســـالـه امـریکایي از باشندگـان شـهر مـیامي کـه ادوار دا نام دارد از بیست وشش سال پیش تاکنون در حالت بیهوشي بسر مي برد .

مـا جرا ازین قـرار است کـه بیمـاري او درمـان پذیر نیـسـت مادرش مي گوید که به دخترش عـلاقـه دارد وتاپایان عـمـر خوداورا رهانخواهد کردواورابه اسا یشگاه مخصوص این نوع بیماري نخواهد فرستاد زیرا که درقبال دخترش احساس مسئولیت مي کند وي میگوید که هنگام کـه او شـانزده سـاله بود دخـتـرې .... کـامـلاً سـالم ومـهـربان بود در یـک مکان عمومي مشاهده کرد که دختر سه چهارساله یي درجستجوي مادرش اشک میریزد و با فریاد مادرش را مي خواهد وبه حالت خاص‌خود مي گوید (مادر توکه مـرا اینطور رها مي کني)پس بحـالت فلج رو ي زمین مي افـتـد و تا بـه امـروز درهمین حالت است وي مي گوید که براي رفع بیهوشي دختر ش امیدي ندارد جز دربار خداوند «ج» و یا یک معجزه .

هغه ماشومان چي میندي یې په پاخه عمر کې زیږوي دشکرې په ناروغي د اخته کېدو چانس یې زیات دي

برتانوي طبي څېړونکو داخبره مـعلومـه کـړې چې ښځې چې هرڅومره په زړه او یا پاخه عمر کې اولادونه راوړي په همـاغـه اندازه د شکرې په ناروغۍ دماشـومـانو د اختـه کـېدو احـتـمـال او امکان زیاتېږي .

دغـه راز د زړو مـېندو لومـړي ماشـوم تر دوهم او دریم ماشـوم ته دشکرې په مـرض باندي د اختـه کـېدو له زیات خطر سـره مـخـامخ کـېږي .

د شلمـي پـېړۍ له پنځمـې لسیزې را هیـسې د شکرې په مرض باندي د نویو زیږېدلیو د اخته کېدو په شـمـېر کـې ډېر زیات زیاتوالي راغـلـي دي ، دشـکـرې نـاروغـي مختلف ډولونه لري او دغـه ډول یې چې نوي زیږېدلي مـاشـومـان پرې اختـه کـېږي د لومړي ډول په نامه یادېږي ، دا دشکرې داسـې ډول دي چې پانقـراص انـسـولین چې شـکره حل کـوي نه تولیـدوي ، کله چې شکره د قـوت او انرژۍ د تولیـدولو لپـاره په وینه کـې حل نه شي نو خامخا په وینه کې زېرمه کېږي او ددې لپـاره چې شکره له بدن نه و غـورځوي ناروغ ژرژر متیـازې کوي او په دې ډول زېرمـه شـوي شکره له بدن نه باسي په دې حالت کې ناروغ ژر ژر وږي او تږي کـېږي ، ډنګرېږي او همیش بې سېکه او کمزوري وي .

د فـرانـسـې پایتخت پاریس نه خـپـاره شـوي رپوټونه ښیي چې دشـکـرې پـه نـاروغـي دنـویـو پیداشـویو ماشـومـانو شمـېر په صنعـتي ملکونو کـې زیات دي په دې ملکونو کې ښځې په پاخه عمر کې اولادونـه راوړي د بـرتانیې یو ډاکتـر وایي : ښځې څکه په پاخه عمر کې واده کوي چې دوي وایي پـیـسـې نه لري چې په ځوانۍ کـې ودونه وکړي او د اولادونو غم وخوري

ډاکتـر بنلي واي چې هغـه ښـځه چې په څلویښت کلنۍ کـې اولاد راوړي نو د هغـې مـاشـوم د ځوانو مېندو د اولادونو په نسبت دري څله زیات د شکرې په ناروغي د اخـتـه کـېدو له چانس سـره مـخـامخ کـېږي ډاکتران وایي چې لومړني ماشوم ته د شکرې د مـرض خطر له راتلونکو اولادونو نه زیات دي ، هر پنځه کاله چې د مـېندو عمر زیاتیږي ماشوم ته یې دشکرې ناروغي خطر په سلو کې پنځه ویشت زیاتیږي ، د شکرې دغـه مـرض چې نوزادان نیـسـي د انـســان په دفـاعي نظام کـې د بې نظمـۍ له امله په پانقـراص کـې انـسـولین نه تولیـدیږي او د دغـې ناروغۍ سبب کـېږي .

په نړۍ کې دپوستکي سرطان مخ په زیا تېدو دی

ډاکتـران وایي چې دزیاتي مـودې له پاره دلمر له وړانګو سره مـخـامـخ کـېدل دسـرې پوستـکي سـوزوي دلمر وړانګي کـېـداي شي دسـپـمـه ببـز و روغـتـیا یې ستـونزو سبب شي چې دپوستکي سرطان هم پکې شـامل دي دنړې روغـتـیـایي سـازمان وایي هرکال په نړۍ کې دپوسـتکي دسـرطان دوه سـوه زره جدي پېښې انکشـاف کــوي او یوازې په امــریکا کې هرکال څه دپاسه پنځوس زره تنه دپوستکي خبیثه سرطان په ناروغي اختـه کـېږي ډاکتـران وایي دپوسـتکي دخـبـیـثـه سـرطان دبدن په سلولونو کې پیل کـېږي چې تصواري رنګه تنبي تنباني پکې تولید کـېږي او په مـعـمـولي ډول دیوي توري کـوچنـي سـاحي په بڼـه څرګند یږي چې خـال ورته ویل کـېږي اودپوستکي دخـبـیـثـه سـرطان تشـخـیص دېنې له مخي دلمر په وړانګو سـره کـېږي ډاکـتـران توصـیه کوي چې خلک بایدتل خـپل بدن دلمر لـه وړانګو څخـه وساتي .

په پښتو شعرکې مذهبي څرګونه

د ثبات لیکنه اوڅېړنه

٩

بي بي زینب او دهغې په مرثیه

رباعي شکل شعرکې دعا

دلوی خدای له دربار څخه دګنا هونو عفـوه ، په نیکی کی توفیق له بدو چارو لیرې کیدل دجنتونو تصیب کیدل او له دوزخونو امان موندل ، دحضرت محمد «ص» شفاعت په برخه کیدل .

دمورا و پلار اونورو مقدارونو دبخښنې غوښتل او داسې نورزیات هغه دعاګانې مفهونه دی چې جواز یې په قران پاک کی ښکی صراحت لری او ددی اسمانی کتاب په لومړی سرآغاز دفاتحی سوره کی د «اهدنا ... »دعا هغه متبرکه دعاده چی دالله څخه دصراط المستقیم دورښوولو غوښتنه شوی ده .

او حتی دلمانځه صورت الحا او محتوا په خپل ذات کی یوه مثلی دعا ده چی دلمانځه اختتامیه هم په دعا شوی ده هرانسان کله چی انسان دمشکلاتو سره مخامخ کیږی له لویه خدایه دهغه داسانیدلو په مقصد استعانت غواړی او کله چی دخپلو عزیزانو خپلو انو په جنازه ژاړی نو په ساندو کی هم دخدای پاک له درباره دهغه ګناهونو دبښنی دجنت او دقیامت په ورځ درستګاری استدعاکوی چی دادی دنمونې په توګه د بي بي زینب هوتکی دهغې اوږ دی مرثیې وروستی پاراګراف را اخلو چی دخپل وروږ شاه محمود هوتکی دمړینې په مناسبت یې ویلی ده .

که نوموړی په لنده توګه معرفی شی نو پټې خزانې ددی په هکله کښلی دی :

بي بي زینب دحاجی میرخان (میرویس نیکه) علیین مکانی لور ده چی له کوچنیوالی یې په حرم کی د عصمت او عفت لوست وکا پس له هغه چي قرآن کریم یې ولوست ، د اسلامی احکامو اوفقه کتابونه یې هم ولوستل او د فارسی مشهور کتب یې ضبط کړل استاد د علومو یې ملانورمحمد غلجی دی .

هـمـی روایت کا : چي بي بي زینب ډېره هوښیاره او په مـهـمـاتو د امورو عالمه ښځه ده او د پادشاه جهجاه شاه حسین په امورو کې تدبیر کا ... عمر په عبادت دخدای او تلاوت د قرآن شریف تیروی ، دا یوه شاعره او شاعر پالونکی ښځه وه او دوهم ددی دنوموړی مرثیې وروستنی برخه :

وروره ! مقر دي ستا مولا کی جنت

در دي کی تانه پس له مرګه راحت

روح دي‌وه ښاد په لویه ورځ د قیامت

مخ دي وه روڼ دخدای په مهرورحمت

د خالق رحم تل پر تا سونا

قندهار واړه په ژړا سونا

(١٩٢ مخ)

د پټې خزانې څخه د یو مستند سند په توګه د پښتون شاعرانو دځونو را اخیستل او د اسلامی تصوفی او عرفانی رنا کې دهغې څیړل به د ریګویلا په یوه دعائیه او همداشان د بیټ نیکه په یو پخوانی دعائي پای ته ورساوه .

د ریګویدا له مناجاتونو څخه په یو مناجات کی راغلی دی :

«خداوند تعالی بخشاینده حیات و مالک الملک است ، بمردم خانواده های نجیب می بخشد ، ای خدایا ! ما هم بنده تو ایم بدون اولاد ما‌‌مگذار »

(ریګویلا ، باب ٧ ، فصل ٦ ، فقره ٦-٧)

او داهم د شیخ بیټ نیکه دعا :

دلته دی دغرو لمنې

زمونږ کیږدی دی پکې پلنې

داوګړی ډیر کړی خدایه

لویه خدایه ! لویه خدایه !

(پټه خزانه ٢٧٨ مخ)

د رحمان بابا په شعرونو کی د تصوف عرفانی وړانګی

رحمان بابا چي اصلي نوم یې عبدالرحمن دی د پښتو د روایتي سلسلة النسب له مخې له مومند څخه ترسړبن پورې شجره لري چې په بهادر کلي کې له پېښور څخه دري څلور میله لرې جنوبي اړخ ته پروت دی د عبدالستار مومند کره وزیږید چې پټه خزانه د محمد رسول کلاتوالي د بیاض له مخې د رحمان بابا د زیږیدو کال (١٠٤٢ هق) ښیي او بناغلي کامل مومند هم داسته سمه بولي او ځینې نور یې (١٠٣٨ هق او یا ١٠٤٠ هق) ښیي مګر زیاتره د ده د زیږیدنې کال هماغه دپټې خزانې قول تاییدوي .

همداشان د پټې خزانې د سنې له مخې د ده عمر تر ٧٦ کلو پورې او مړینه یې په (١١١٨ هق) نبودل شوی ده .

د مومند د یوی غریبې کورنۍ دی ماشوم له ملا محمد یوسف یوسفزي څخه لوست وکا او له هغه څخه یې فقه او تصوف زده کړل او بیا ولاړ کوهاټ ته هلته یې هم سبقونه ولوستل او ښه عالم شو .

په ځوانۍ کې یې دنیا پرېښوده او دخدای «ج» په عبادت مشغول شو عبدالرحمن بابا یو عالم او عابد سړی ؤ (پټه خزانه ٤٤-٤٥ مخونه)

په یوبل روایت یې له مولینا عبدالحق څخه قرآن مجید او نور لومړني دیني علوم زده کړي دي ...

نو داده کله چې د رحمان بابا نوم اخیـسـتل کیږي ورسره جوخت د رحمان بابا له نامي سره صوفي عبدالرحمن ، ملنګ عبدالرحمن او لسان الغیب عبدالرحمن او داسې یو لړ نور مفاهیم په خاطر کې راځي او دا ددې معنا لري چې د رحمان بابا په اشعارو کې د ده تصوفي ، عرفاني او روحاني ژوند خلاند انعکاس موندلی دی او مذهبي احساساتو یې د حقیقي عشق له جذباتو نښتنت کړی دی د دي په دیوان د ده د حقیقي عشق یعنې تصوفي حالت دومره پراخ مذهبي څرګونه موندل کیږی چې خبرې پرې ناشونې دی او دلته یې یوازې د مثال په توګه په محدودو شعرونو کې د دغو روحاني وړانګو په ګوته کولو کې بسنه لازمه ګڼل کیږي .

پاتی لري

اعـــلانـات

به اطلاع مـحـمـد نعـیم فـرزند محمد ابراهیم مـسکونه قلعه شهادت کابل میرساند تا غرض حل وفصل دعوی محمد رضا فرزند دار... علی از تاریخ ٢-٤-١٤٢٢ تا دو مـاه بریاست دیوان تجارتی محکمه مرافعه ولایت کابل حاضر شود در غیر آن فیصله غیابی بالایش صادر و آنگاه حق شکایت را نخواهند داشت .

***

یك دربند حـویلی واقع چهـار قلعـه وزیرآباد ملکیت شـفـیع الله فرزند حفیظ الله که تحت تأمین بانك رهنی وتعمیراتی میباشد بازهرا بنت مـحـمـد ناصـر مـاهانه مـبلغ سـه صدوشصت هزار افغانی برای مدت یکسال عقد قرارداد میگردد .

مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت تعمیرات بانك رهنی وتعـمـیـراتی واقع سـینمـا پامـیـر بـسـپـارند وخـود شـان از تاریخ ٦-٤-١٤٢٢ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تأمینات اخذ میگردد .

***

یك باب خبازی ملکیت مشکی چند فرزند محل چند واقع مندوی که تحت تأمین امارت اسلامی قرار دارد به اجاره داده میشود .

اشخاص و موسـسـاتیکه خوا هش اجاره گرفتن آنرا داشته باشند درخـواست های خـویشـرا به اداره بررسی منازل وجـایدادها بـسـپـارند وخود شان از تاریخ ٦-٤-١٤٢٢ تاده روز مـراجعه نمایند شرایط قرار داد را ملاحظة مینوانند تضمین اخذ میگردد

***

به اطلاع محمد ابراهیم محسنی فرزند مـحـمـد محـسن ، عزیزه بنت موسی و نجیـبـه بنت مـحـمـد اکـرم (زوجتان) مذکور باشنده گان فعلی کـارته سـه مربوط ناحیـه شـشم شاروالی کابل میـرساند تا جـهت فیصله دوسیه نسبتی شان از تاریخ ٦-٤-١٤٢٢ تا ده روز به محکمه عقاری و اموال غیر منقول حاضر شوند در غیر آن دوسیه مربوط در غـیـاب شـان فـیـصـله و آنگاه حق شکایت را نخواهند داشت .

***

وزارت صـحت عـامـه امـور ساخـتـمـانی و اعـمـار یك محراب مـسـجد شریف را در محوطه مرکز وزارت صـحت عـامـه باشـرکت ساختمانی مولانای (رومی) به مبلغ یك ملیارد وسه صدوچهل ونه ملیون وپنجصدو نودونه هزار ویکصد ونود دو افغانی قرار داد مینماید .

مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا بریاست ساختمانی وزارت صحت عامه بسپارند خود ویا وکـیـل قـانونی شـان از تاریخ ٦-٤-١٤٢٢ تا ده روز مـراجـعـه نمایندجواز نامه ملاحظه تضمین اخذ میگردد .

***

ریاست عمومی رادیو صدای شریعت به نه قلم روغنیات وسایط ترانسپورتی ودستگاه‌های مربوط خویش ضرورت دارد .

اشخاص وموسساتیکه خواهش رسانیدن آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت تهیه و تدارکات رادیو صدای شریعت بسپارند وخود شان ازتاریخ ٦-٤-١٤٢٢ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه ولست مشخصات راملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد . ***

معدن گل سفید للمر ولایت کابل ومعدن گل سفید اوخیل ولایت میدان طور قرارداد به اجاره داده میشود .

اشخاص وموسساتیکه خواهش قراردادآنرا داشته باشند درخواست های خـویش را بریاست تعـدي استخراج معادن بسپارندوخودشان از تاریخ ١٤٢٢/٤/٦ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

ریاست مطابع امارتی نزده قلم مواد خام طباعتی از قبیل کاغذ اخباری درجه اول ، رنگ لایزر ، ادویه جات زنکوگرافی ، کیره برنگ های مختلف وغیره مواد را شرکت تنویر نوید لمتد به قیمت مجموعی مبلغ نه ملیاردو نه صدوسی وهشت ملیون ویکصدونود ودو هزاروهفتصد افغانی نرخ داده است.

مناقصه کننده‌گان درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات ریاست مطابع امارتی بسپارند وخود شان از تاریخ ٦-٤-١٤٢٢ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه و مشخصات را ملاحظه کرده‌میتوانند تأمینات اخذمیگردد .

***

ریاست تعمیرات وزارت امور داخله تهجانی دکاکین ، غرفه ها ، کانتینرها ، کاه فروشی ها و حویلی های مربوط ساحه شهرك پولیس رابه‌کرایه‌میدهد .

شائقین درخواست های خویشرا به امریت خریداری وزارت امور داخله بسپارندوخود شان از تاریخ ٢-٤-١٤٢٢ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

ستره محکمـه امارت اسلامی افغانستان سی وشش قلم پرزه جات موتر بس پارکتز ، بس نمبر ١ خویشرا مبلغ هفتاد ملیون وسه صدوپنجاه هزار افغانی و اجرت آنرا به مبلغ نه ملیون ویکصدوهفتاد هزار افغانی کـه جـمـعـاً مبلغ هفتادونه ملیون وپنجصد وبیست هزار افغانی میشود از بازار نرخ گرفته است .

مناقصه کننده گان درخواست های خویشـرا به آمریت خدمات ستره محکمه بسپارند وخود شان از تاریخ ٥-٤-١٤٢٢ تا ده روز مـراجـعـه نمایند تضمـیـن اخـذ مـیگردد .

دمخدراتو پرخلاف ...

ملتو د سازمان د کمیسیون د عمومي رئیس ښاغلی پینوار لاکی پیغام په کابل کی ددغه دفتر د مسئول لخوا او دبهرنیو چارو ،پوهنی او دعامی روغتیا د محترمو وزیرانو هغه پیغامونه چي له همدی امله لیږل شوی ؤ ولوستل شول .

درولایت تخار ...

تانك آن به غنیمت گرفته شده وهنوز هم امپیر کیلو متر آن صفر است و انشـا ءالله به اینده نزدیك از طریق خبرنگاران خارجی به مشاهده جهانیان خواهیم رسانید ، همچنان روسیه برای مسعود طیارات هلیکوپتر را نیز تسلیم نموده که این سلاح و مهمات از طریق ولایت بدخشان وارد کشور گردیده است محترم مطمئن افزودند که ایران نیز مانند روسیه مخالفین امارت اسلامی را مسلح نموده وبه خاك افغانستان می فرستد که نمونه بارز آن گروه اسماعیل خان است ، اگر چه خود اسماعیل چندان نیروی نظامی ندارد اما باغیان از طرف کشور ایران مسلح گردیده که دست به عملیات ناکام می زنند .

له افغانانو دي رشوت ...

وویل پدی ورستیو ورځو کی دپاکستان داسلامی جهوریت او افغانستان اسلامی امارت لخوا یو گډ کمیسیون جوړشوی و ، چی دپاکستانی هیئت مشری دکورنیو چارو وزارت معین تسنیم «نوری » او داسلامی امارت دهیئت مشری ماته په غاړه راوچوله شوی وه داخبری په کابل کی ترسره او په یو لړ ستونزو وبحث وشو .

لومړی هغه افغانی مهاجرین چی د ناصر باغ په کمپ کی دمهاجرت شپې او ورځې تیروی هغه باید له کمپه ونه شړل شی ځکه په هیواد کی له جگړې پرته وچکالي هم خپلی سپیری منگولی ټینگی کړیدی اوکه په پاکستان کی دننه بی ځایه کیږی دهغوی دسرپناه غم وخوړل شی بل داچی هغوی اوس په ناصر باغ کمپ کی کوړونه ، دوکانونه او نور ضرورت وړ ځایونه جوړ کړیدی . دهغو ځایو مصرف باید ورکړل شی . دیادونی وړ ده چی کـه په افغانستان کی روانی ستونزی لری شی او د مهاجرینو دراتگ زمینه برابره شی نو نه یوازی چی له پاکستان نه بلکی له ټولی نړی به افغان مهاجرین خپل هیواد ته راستانه شی ، اوبل داچی باید دهغو مهاجرو بندیانو په دوسیو باندی دافغانی اوپاکستانی هیئت لخوا غور وشی چی د پاکستان بندیخانو کی شپې اوورځې تیروی او دلږجرم بندیان آزاد کړای شی .

ددی خبری په هکله چی دپاکستان حکومت دعامو مهاجرینو په اړه څه نظر لری واحد

یار صاحب وویل : باید ووایم پدی خبره هم پریکړه وشوه چی دافغانستان او پاکستان دیو گډ هیئت له لوری دافغانی مهاجرینو دمهاجرت اسناد وڅیړل شی او دهغوی د بی ځایه ځورولو مخه ونیول شی .

دافغان مهاجرینو دوسلی په باب موهم له پاکستانی هیئت سره خبری وکړی چی له افغان مهاجرینونه دوسلی ټولو لو په وخت باید افغانی غروراوحیثت ته زیان ونه رسیږی او دهغوی وسلی یادپیسو په مقابل کی ځینی واخستل شی اویاهم هغوی ته دبهر ته ستنیدوپه وخت وروسپارل شی اختلاف علیه ع ورته وویل چی په تورخم کی دی له افغانانو درشوت اخیستلو مخه ونیول شی او داد مرورکړ چی انشـاءالله نور به په افغانستان کی جگړوته دپای ټکی کیښودل شی دشراوفساد ورستی ځالی په ړنگیدو دی په دی سره به هیواد ته دافغانی مهاجرینو دراتلو بو مخبیزه لړی پیل شی او رښتیاهم دا دمهاجرو هیواد والو دستونزو دحل یوازنی لاره ده .

محمد رفیق «عزت »

په نورستان کی ...

مرکز بیخی له منځه یووړل شوا او اتنه افراد یی هم وژل شویدی .

دغه راز یوه زیاته اندازه وسلی اومهمات چی دخلکو دسوله ییز ژوندانه او امنیت دگډوډولو په مقصد په دغه مرکز کی ځای پرځای شوی و ترلاسه شویدی .

داپه داسی حال کی دی داسلامی اردو دمجاهدینو دپرله پسی هلو ځلو له امله دهیواد په زیات و وسیمو کی غیرمسوول وسله وال کسان یا داچی له منځه تللی دی او یا په خپله خوښه داسلامی اردو له مجاهدینو سره یوځای شویدی خبرزیاتوی دنورستان دوامه ولسوالی خلکو چی دحاجی قدیر دتدارکاتی او پوځی مرکز په له منځه وړلو کی ستر رول درلود ژمنه کړیده چی له دی وروسته هیڅ یوه اخلال گر شخص ته اجازه نه ورکوی چی د دوی آرام ژوند گډوډ کړی او یا ددوی له سیمو نه داسلامی امارت پر خلاف په ورانکار ی عمل لاس پوری کړی .

په لوگر کی ۳۸۰ ...

دری سوه اتیاکورنی دڅښاک له روغتیایی اوبو څخه برخمنی شوی دلوگر له ولایت نه دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ .

په تیرو شپږو میاشتو کی دلوگرولایت دمحمد آغی ولسوالی په مربوطاتو کی دپاملرنی موسسی لخوا دسیمی دخلکو په همکاری دبارلس کاریزونه پاک شویدی .

دغه راز دهمدی موسسی په

بهیرکی دپاملرنی موسسی په مرسته او دسیمی دخلکو په همکاری دمحمد آغي ولسوالی په بیلابیلو سیمو کی شپږ بندونه په پاخه او اساسی ډول جوړشویدی دغی موسسی داوبو دزیرمی په جوړولو دترناب په جوړولو او دکاریزونو دتونل په کیندلو کی دکار په بدل کی دغنمو په ویشلو سره ددغی ولسوالی له خلکو سره مرسته کړیده .

ازجانب عالیقدر امیرالمؤمنین ..

بخشهای خیاطی، بوت دوزی ، نجاری ، حکاکی ، جاکت بافی ، رسامی ، خطاطی ، قالین بافی ، گلدوزی ، گلسازی و غیره را ایجاد نموده که در این بخش ها دوصد تن از نو جوان بازمانده از پروسه تعلیم و تعداد از معیوبین قسمی را زیر نظر پانزده تن استاد مجرب تحت آموزش قرار داده است . این پروژه ها طور سه ماهه ، شش ماهه ویك ساله فعالیت داشته که در امر خود کفایی سالانه صدها هم وطن مورد خدمات ارزنده قرار گرفته است .

همچنان بخاطر توسعه و بهبود شرایط کار ، رفاه اجتماعی ، چگونگی سطح تولید ، بهبود و تأمین سطح زندگی کارکنان ، رهبری و سازماندهی یك اداره سالم وغیره امور مقرره شورای عالی اسلامی کار طرح ، تسوید و مراحل تقنینی آن از طرف وزارت محترم عدلیه و شورای محترم وزیران نهایی و غرض توشیح به مقام امارت اسلامی افغانستان ارسال و اخیراً توشیح گردید ، که با توشیح آن گام های مثبت و ارزشمند در راه بهبود امور کار و اداره وسطح زندگی کارکنان امارتی گذاشته خواهد شد . همچنان سیمینار آموزشی اساسات اداره وقوانین مرتبط بکار مجدداً در سطح مرکز و ولایات به اشتراك مسئولین ومنسوبین وزارت ها و ادارات تدوام بخشیده که در این امر در ارتقای سطح دانش مسلکی کارکنان ، تحکیم قانونیت در اداره و جلوگیری از نا رسایی های کاری وبی کاری های مخفی در اداره بس موثر خواهد بود .**عالی**

درشفاخانه پلخمری ...

سالی وتخنیکی دفتر سازمان صحی جهان ودکتوران بی سرحد درشهرپلخمری فعال گردیده است که درآن مریضان مصاب به مرض کولرا روزانه معالجه وتداوی میگردد .

محترم ملاجان محمد جسور رئیس صحت عامه ولایت بغلان طی نشستی که با مسوولین دفاتر سازمان صحی جهان ، دوکتوران بی سرحد و مسوول بخش صحی کمیته سویدن داشت خواهان کمك های طبی در زمینه گردید .

واقعـه کولرا درمربوطات آن ولایت طبق راپور دفتر دوکتوران بی سرحد تثبیت گردیده که درزمینه تدابیر لازم اتخاذ گردید .

مسابقه فتبال ...

(یك) مقابل (یك) مساویانه خاتمه یافت.

خبرنگار ورزشی روزنامه که درین مسابقه اشتراك ورزیده بود چنین خبر میدهد : درین مسابقه که هزارها تن از جوانان و علاقمندان چنین فتبال به خاطر تماشای آن در دندانه های ستدیوم صف بسته بودند

و بازیکنان را بیطرفانه تشویق مینمودند درنیمه آف تایم دوم درحالیکه تیم اتحاد در میدان غالب بود ، گولی پنلانی خوبی از جانب يك بازیکن فعال تیم میوند بر دروازه تیم اتحاد وارد شد که نتیجه مسابقه را مساوی ساخت .**شاکر**

ایران براي مهاجرین افغان ...

هدف اساسی آن اولاً تثبیت کمیت و احصائیه فعلی افغانان در آنجا ؛ ثانیاً توزیع کارت های موقت اقامت برای آنان وثالثاً جلوگیری از ورود افغانان جدید به خاك ایران بود ؛ البته اینکار مطابق برنامه در کوتاه مدت عملی گردید از اول جوزای سال روان پروسه توزیع این کارتها برای افغانها در آنجا آغاز یافت .

فعلاً کلیه افغانها از امتیاز اسناد اقامه موقت در آنکشور مستفید گردیده اند .

شایان ذکر است که از اتخاذ وتطبیق این برنامه بدینسو محافظین سرحدی ایران نیز در برابر ورود غیر قانونی افغانها بداخل خاك آنکشور در مقایسه با سالهای پیشین تدابیر خیلی جدی اتخاذ نموده اند ؛ این در حالیست که احصائیه اخیر کمشنری عالی ملل متحد در امور پناهدگان افغان رقم مجموعی مهاجرین افغان را درکشور ایران ۱.۵ ملیون نفر نشان میدهد از جانب دیگر اخیراً منابع رسمی در ایران اعلام داشته اند که هیچ فابریکه و کارخانه تولیدی حق ندارد که غرض پیشبرد امور کاری خویش کارگران غیر ایرانی را در کار استخدام نمایند ؛ البته در صورت تخطی از این امر متخلف بر سر هر کار گر غیر قانونی مبلغ ۲۵ دالر امریکایی جریمه خواهد شد . **مهربان**

گلدان ها وجزایر ...

این مطلب را محترم انجنیر محمد داود مسئول پروژه به خبرنگار ما گفته افزود :

این گلدان ها وجزایر ترافیکی که از ساحه چهلوراهی دهن باغ آغاز وتا چهار راهی ده افغانان ادامه داشته حدود سه ونیم کیلو متر ساحه را دو طرفه احتوا میکند .

در این پروژه بر علاوه انجنیران ۳۰ تن از کار گران تصدی مصروف کار اندکه کار اعمار این گلدان ها عنقریب انجام خواهد یافت مصارف اعمار گلدان ها از بودجه عادی شار والی کابل تمویل میگردد . **عمر عبدالله**

درکابل نرخ غله ...

ضمن تأیید این مطلب به خبرنگار ما چنین اضافه داشت :

از دیری بدینسو دولت پاکستان برای آن عده از تجار افغانی که مواد غذائی به افغانستان تورید مینمایند تسهیلات زیادی را فراهم نموده است این درحالیست که همین حالا از طریق بندر تورخم روزانه تا ۵۰ لاری حاوی آرد و گندم به شهرکابل انتقال شده ودر مندوی باغ قاضی تخلیه میگردد .

وی قمیت یکسیر آرد را که معادل ۷ کیلو گرام میشود ۷۲۰۰۰ افغانی یادآورشده افزود امکان این میرود که روزتا روز نرخ غله در کابل تنزیل قابل ملاحظه پیدا کند

م - ۲

ترمیم سرک ها حفر چاهای آب آشامیدنی درولایت سرپل آغاز میگردد.

سرپل :

موسسات جرمن اگرواکشن و احمایه از اطفال کشور انگلستان درنظر دارد تا پروگرام توزیع مواد امداد برای مهاجرین مستقر در ولایت سرپل ،ترمیم سرك ها وحفر چاه های آب آشامیدنی را در آن ولایت آغاز نماید .

آژانس اطلاعاتی باختر خبر داد :این مطلب دیروز در ملاقاتیکه محترم ملانصرالدین معاون ولایت سرپل بامسوولین موسسات جرمن اگرواکشن وحمایه از اطفال کشور انگلستان انجام دادمواد بحث قرار گرفت طی این ملاقات مسوولین موسسات متذکره اطمینان دادند که درنظر دارند عنقریب پروگرام توزیع مواد امدادی برای مهاجرین مستقر درولایت سرپل ، پروگرام ترمیم سرك ها وحفر چاه های آب آشامیدنی را درآن ولایت آغاز نمایند.

يك منبع مربوط گفت: موسسه جرمن اگرواکشن درولایت سرپل برای چهار هزار ونه صدفامیل که از اثر خشکسالی متضرر گردید ، اند یکمقدار گندم توزیع نموده ویه تعداد نود حلقه چاه آب آشامیدنی صحی را درقراء مختلف آن ولایت حفر وبرای ۲۸ فامیل دهاقین مقدار پنج تن گندم بذری توزیع نموده است .

فروانی وارزانی تربوز درکابل امسال بیسابقه میباشد

کابل – شریعت :

از طی ده روز بدینسو روزانه چهل پنج تاپنجاه هزار سیر تربوز درمارکیت تربوز وخربوزه (چمن ببرك) دشهرکابل تخلیه میگردد.

خبرنگار ما درزمینه چنین گزارش میدهد:

هرروز ۲۵تا ۳۰ موتر بزرگ مملو از تربوز درمارکیت چمن ببرك تخلیه میگردد این درحالیست که درسالهای قبل درهمین موسم بیشتراز ۲-٤ موتر تربوز درین مارکیت تورید میشد.

محترم آغامحمد منشی مارکیت متذکره یگانه دلیل کثرت وفراوانی تربوز را امسال درکابل عدم کشت تریاك از جانب دهقانان مادرکشور تلقی نموده چنین اضافه داشت امسال تمام دهقانان مشرقی (جلال آباد) بجای تریاك زمین های شانرا تربوز کشت نموده اند ، البته تربوزیکه روزانه سرازیر میشود همه محصول زمین های جلال آباد می باشد .

محمد کریم یکی از کیبه داران مارکیت نرخ تربوز را خیلی ارزان توصیف نموده گفت : امروزنرخ سیر تربوز درین مارکیت از ۱۲۰۰۰ شروع شده وتا ۲۰۰۰۰ افغانی هم خریدو فروش میشود .

شایان ذکر است که امسال اینگونه فراوانی وارزانی تربوز درشهر کابل به تناسب سالهای پیشین بیسابقه وکم پیدا بوده وهموطنان بی بضاعت وبیچاره ما اگر نمیتوانند درهفته یکبار گوشت نوش جان بکنند حداقل میتوانند گاه گاهی کام خود و اولاد های شان را بواسطه این میوه شیرین بسازند . **مهربان**

داستخباراتو د لوی ریاست خبرتیا

داستخباراتو دلوی ریاست په چوکات کی دشکایتونو داوریدو واکمن کمیسیون جوړشویدی .

که چیری زمونږ هیوادوال دهیواد په مرکز او ولایتونو کی داستخباراتو له کارکوونکو څخه شکایت ولري کولی شی خپل شکایتونه په لیکلی ډول دشکایتو نو داوریدو کمیسیون ته چی په اوونی کی دوه ورځی ددوشنبی او چهار شنبی دورځو له غرمی وروسته دکابل ولایت ته مخامخ دلوژستیک په ریاست کی غونډه کوی وسپاری . چی له هراړخیزغور وروسته په دی باب عملی تصمیم ونیول شی .

درولایت سرپل ...

فاریاب اخیراً چهارتن را به اتهام سرقت زمانی دستگیر نمودند که دوتن آنها مقدار چهل و يك سیر پخته را از گدام های مرکزی ریاست عشر وذکاة آن ولایت به سرقت برده ودوتن دیگر دوتخته قالین یکتن از هموطنان ما را از منزل وی سرقت نموده بودند .

د یو جامع جومات ...

د باختراطلاعاتی آژانس خبر راکړ په دغه جومات کی چې په پاخه او اساسی ډول په دوو پوړونو کی جوړیږي په یوه وخت کی اوه سوه تنه لمونځ کوونکی یکی ځاییږی او دجوړولو لگښت یی ددغی ولسوالی یو تن اوسیدونکی محترم حاجی سردار محمد په غاړه اخیستی دی .

دآذربایجان ...

اردو تیاری لری چی د دغه هیواد ځمکنی بشپړتیا تأمین کړی .

د نگورنو قره باغ ښخوره په ۱۹۸۸ میلادی کال کی د ارمنستان او آذربایجان تر منځ پیل شوه او په ۱۹۹٤ میلادی کال کی د اوربند دیو موافقه لیک په لاسلیک سره پایته ورسیده نگورنو قره باغ یوه داسی سیمه ده چی د آذربایجان په خاوره کی موقعیت لری خو زیات وگړی یی ارمنیان دی .

دیهودي غاصب ...

ورمه ورځ نارخته د الخلیل په ښار کی په فلسطینی سیمو باندی د درندو وسلو ډزی وکړی . چي په نتیجه کی یی د یو ولس کلن ماشوم په گډون لس تنه فلسطینیان ټپیان شول او د فلسطینیانو څو کورونه زیانمن شول .

د الخلیل په ښار کی د فلسطینی مبارزینو او د اسرائیلو د یرغلگرو سرتیرو ترمنځ د متقابلو ډزو له امله د څلورو تنو اسرائیلی سرتیرو په گډون پنځه تنه ښهیونیستان ټپیان شول .

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:
Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,
Editor: Ghulam M. Farooq

توجـه !
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.